# عقل

## پلورونکی



Ketabton.com

*** لنډه کیسه ***

عبدالرشید”صمد نجاب“

(c) ketabton.com: The Digital Library

**بسم الله الرحمن الرحيم ط**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# عقل پلورونکی

***** لنډه کیسه *****

(c) ketabton.com: The Digital Library

**سرلیک:** عقل پلورونکی *** لنډه کیسه ***

**لیکنه:** عبدالرشید"صمد نجاب"

**ترتیبوونکی:** ارسلان همت

**پښتی ډیزاین:** ارسلان همت

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د عقل پلورونکي (خرڅوونکي) سړي کيسه:

ؤ نه ؤ يو سړی چې په يوې لېرې سيمه کې يې ژوند کاوه،

د عقل لويې لويې خزانې يې درلودلې...

هره ورځ به ښار ته د عقل پلورلو (خرڅولو) لپاره راته!

خلک به هم پرې راټول وو ...

په ډېر شور ماشور او تلوار سره .....

عقل به يې له عقل پلورونکي سړي څخه اخيسته!

د عقل پلورونکي سړي دې سوداګرۍ ډېره موده دوام وکړ...

خو ورو ورو د عقل لويې خزانې يې په ختمېدو شوې!

يو هوښيار (ځيرک) سړي يوه ورځ عقل پلورونکي ته وويل:

دا د عقل لويې خزانې چې درسره وې ...

ولې؟ خپله ترې استفاده نه کوې؟؟؟

عقل پلورونکي ورته وويل:

ماسره نور عقل پاتې ندی ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما خپل ټول عقل خرڅ کړی (پلورلی) .....!!!!!

**د کیسې مانا او مطلب:**

مونږ د افغانستان خلک او زمونږ د هرې دورې حاکمان، ټول وایوو چې مونږ ۵۰۰۰ کلن تاریخ لرو، بېلا بېل فرهنګونه لرو، معدنونه لرو، بېلابېلې سرچینې، ښې خوړې اوبه، زراعت او هر څه په هیواد کې لرو؛ یو تریخ حقیقت دا دی: چې خپله استفاده ترې نه کوو (ترې ګټه نه اخلو).

له اوبو څخه مو پاکستان او ایران ګټه اخلي، معدودنو څخه استفاده نشو کولای که هر هیواد ته قرارداد یې ورکول کیږي اصلاً په ګټه یې نه پوهیږو یا هم هیڅ نه عملي کیږي. ډیری وخت په جګړو او جنګونو ویاړ کوو خو درس ترې نه اخلو، زده کړه او استفاده ترې نه کوو. تل وایوو د نړۍ ۱۳ هیوادونه، د شرق لوی ځواک یا د نړۍ ۵۲ هیوادونه او د غرب لوی ځواک مو مات کړی، خو خپلو خلکو (ملت) ته مو څه کړي دي؟؟؟

ډیرې میندې بې اولاده، ډیرې خویندې بې وروره، ډیرې میرمنې بې خاونده، ډیری اولادونه او ماشومان یتیمان شي، په زرګونو، لکونو او میلیونونو کسان مو خپل ژوند له لاسه ورکړي، هیواد مو کلونه کلونه د نړۍ د هیوادونو خیرات ته ناست دی، بشري قوه مو بېکاره، ټول ځوانان او په ټوله کې خلک مو ناهیلي؛ یوازینۍ لویه هیله د ځوانانو او خلکو **پاسپورټ** اخیستل دي؛ آیا مونږ په رښتیا

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نړۍ لوی ځواک او ۵۲ هیوادونه مات کړي دي؟؟؟ د کیسې د اصلي مطلب ځخه لېرې نشم؛؛؛ پښتو کې یوه خبره ده که متل ده: " که ټول بازار په یوې روپۍ(افغانۍ) شي که یوه روپۍ (افغانۍ) درسره نه وي نو بیا هیڅ ده ". که د نړۍ ټول ویاړونه او ټول شیان پخپل هیواد کې ولرو خو د اوسني نسل او د راتلونکي نسل او د هیواد په ګټه که ترې استفاده ونشو کړای هیڅ مانا نلري. راځئ چې نور له دې ټولو یادو شویو سرچینو او شیانو ځخه استفاده وکړو. د عقل پلورونکي سړي د کیسي په څېر خپل ټول عقل باید خرڅ نه کړو خپله هم باید ترې استفاده وکړو.

**پای**

(c) ketabton.com: The Digital Library

له ارسلان جان څخه نړۍ نړۍ مننه چې زما لیکنې ترتیبوي او خپروي. له ټولو لوستوونکو څخه هم ډېره زیاته مننه؛ خوښ او بریالي اوسئ!

**سرچینه:**

د خلکو له خولې اورېدلې کیسه.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**